
اخترمحمد یوسفی

# د پاکستان منډی د افغانستان له غمه د جګړی په تودو کې!




دغه ته وایی ربښتنی دوستی، پاکستانی کرکټباز عمران خان د افغانستان له غمه د روسیی او اوکراین د جګړی د اورونو په تودو کښی په منډی ځان مسکو ته رسولی دی. طالب جانه ته هیچ غم مکوه، چی پاکستان ژوندی وی نور نو ته بیغمه په افغانستان کښی خپله پاچاهی کوه. ته هیڅ خپل چرت مه خرابه وه، ذبیح جان مجاهد ځوان خبر ندی، هغه متل دی نه آوریدلی وایی چی تیغ چلیږی وینی به خود بهیږی. ذبیح جانه ته بیغمه خپل د تبلیغاتو کار کوه. په سپین بولدک کښی چی پاکستانی پوځیانو څلور کسه بیګناه ولسی افغانان په خپله خاوره کښی وژلی دی یوه محلی پیښه وه؟.




پاکستانی لوی مجاهد جنرال ضیاالحق د خپل جهاد پروخت د شوروی سره یوځای د پاکستان او د روسانو د دغه دوستی لپاره تر دوه میلیونه زیات افغانان وژلی دی.




د طالبانو ویاند ذبیح الله مجاهد نن پنجشنبه فبروري ۲۴ (سلواغه پنځمه) پاکستاني لورى د جګړې په پیلولو تورن کړی دی.




[پښتو  BBC News - افغانستان]

نوموړي په خپل ټویټر کې لیکلي دي: د کندهار په سپین بولدک کې له پاکستاني ساتونکو سره یوه محلي ستونزه پیښه شوې، متاسفانه چې لومړی ډزي د پاکستاني ساتونکو له لوري شوي دي. ښاغلي مجاهد زیاته کړې ده چې اوس «حالات

کابو» شوي او «موږ به په دې اړه بشپړه پلټنه وکړو چې دا پېښه ولې رامينځته شوې» ده. په همدې حال کې د فرانسې خبري اژانس په سيمه کې د امنيتي مسئولينو او روغتيايي چارواکو له خولې خبر ورکړی چې په دغې جګړې کې لږ تر لږه دوه کسان وژل شوي دي. عيني شاهدان وايي چې د درنو او سپکو وسلو ډزې اورېدلي دي. يو عيني شاهد ويلي دي چې د پاکستان له لوري په سيمه کې د توغنديو له لګېدو وروسته ډېر خلک له خپلو کورونو څخه وتلي دي. په سيمه کې د يو روغتون ډاکټر نعمت شهزاد ويلي دي چې دوه کسان وژل شوي او څلور نور ژوبل دي.